Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۲۵مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۹مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۷/۳



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د معدني موادو د پروسس او صادراتو د پالیسۍ تایید

۲- د بخش اباد خاکي بند جوړېږي

۳- هرات کې د ٦٠ میلیونه ډالرو په ارزښت د لس نویو کارخونو پرانیستل

# د معدنـي موادو د پروســس او صادراتو د پالیسۍ تایید



د ریاســت الــوزراء اقتصــادي مرستیــال محتــرم ملا عبدالغــني بــرادراخوانــد په مشــرۍ اقتصادي کمېسیــون د کانونو او پیټرولیـم وزارت له لوري د معدني موادو د پروســس او صادراتو وړاندې شوې پالیسي تاییــد کــړه. یــاده پالیــسي د اقتصــادي معاونیت د حکم پر بنسټ تدوین شوې ده. د پالیســۍ موخــه د مــلي او نړیوالو معیارونــو پــر اســاس د معــدني مــوادو پروســس ته زمینه برابرول، په هېواد کې دننه د معدني موادو د پروســس په برخه کې د کورنــۍ او بهرنــۍ پانګونې جذب، د کــورني صنعت ملاتــړ، د ســیمې او نړۍ بازارونو ته د معدني موادو د سوداګرو اســانه لاســرسی او په هېواد کــې د کاري فرصتونو رامنځته کول دي. په پالیسۍ کې د هېواد پــه داخل کې د معــدني موادو په پروسس، د صادراتو په زیاتوالي او د څارنې او شــفافیت په چوکاټونو ټینګار شوی دی. پــه پالیســۍ کــې د چاپېریــال ســاتنې معیارونــه په نظر کې نیول شــوي دي او د نړیوالو سوداګریزو توافق لیکونو پر بنسټ نړیوالو بازارنو ته پر لاسرسي تمرکز کوي. د بهرنیو اشغالونو، کورنیو جګړو، فساد او د سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ له امله د هېواد له معدنونو څخه مؤثره ګټه نه ده اخیستل شوې او بهرنیو هېوادونو ته د هېواد معدني مــواد پــه ناپروســس شــوي ډول او په لږ قیمت صادرېدل، خو د افغانستان اسلامي امارت له راتګ ســره د معدنونو ســکټورته ځانګړې توجه وشــوه او د ډېر فساد او غېر معیاري صادراتو د مخنیوي په موخه مهم ګامونه واخیســتل شــول، چې د اوسنۍ پالیسۍ تدوین او تاییدي یې یوه بېلګه ده.

# د بخش اباد خاکـي بند جوړېږي

د ریاســت الــوزراء اقتصــادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د فراه له علماوو او قومي مشــرانو ســره لیدلي دي. په لیدنه کې د فراه علماوو او قومي




مشــرانو د خپل ولایت د اوبو د کمښت، برېښــنا او ټرانسپورټ په برخه کې د خپل ولایت ستونزې شریکې کړې.
د ریاســت الــوزراء اقتصــادي مرستیال اړوندو وزارتونــو، ادارو او مســوولینو ته ســپارښتنه وکړه چې د خپلــو امکاناتو په صورت کې د فراه ولس ستونزو ته رسیده ګي وکړي. محتــرم ملا عبدالغــني برادر اخوند هغوی تــه ډاډ ورکړ چــې په نږدې راتلونکي کې بــه د بخش اباد د خاکي بند او د فــراه له مرکــزه تر فــراه رود پورې د غځېدلي سړک عملي چارې پیل شي.
د افغانســتان اسلامي امارت د افغانستان له اوبو څخه د سالمې استفادې په موخه غواړي چې د هېواد په ټولو ولایتونو کې

اوبـه مدیریت کړي. په همـدې موخه په فراه کې د برېښـنا د تولید او کرنې د ودې لـه پاره د بخش اباد بنـد جوړېږي او ددې بنـد د انحـرافي تونلونو چارې تـر ډېره بریده بشپړې شوې دي.

د بخش اباد خاکي بند په جوړېدو سره به په فراه کې کرنه پراختیا ومومي او په ټوله کې به د هېوادوالو اقتصادي وضعیت کې بدلون راشي. فراه لویې دښتې لري، خو د اوبو د کمښت له امله په کې کرنې د پام وړ پراختیا نـه ده موندلې. اسلامي امارت غواړي چې د اوبو په مدیریت سـره د فراه کرنیز وضعیت کې بدلون راشي.

## هرات کې د ۶۰ میلیونه ډالرو په ارزښـت د لس نویو کارخونو پرانیسـتل

د هرات ځایي مسوولینو ویلي چې د دغه ولایت پـه صنعتي ښارګوټي کـې د ۶۰ میلیون ډالرو په پانګونې سـره لس نوې کارخونې پرانیستل شوې دي.

د یادو کارخونـو په پرانیسـتغونډه کې د هرات والي شیخ نـور احمد اسلام جار، د صنعـت او سـوداګرۍ وزارت مرستیـال مولوي احمــدالله زاهد او یوشــمېر نورو امـارتي مسـوولینو، سـوداګرو او صنعتکارانو ګډون کړی و.

دغـه کارخونـې د درملـو، طبـي توکو، خوارکي توکـو او نورو برخو کـې فعالیت کوي. هـرات د هېـواد له لویـو صنعتي ولایتونـو دی، چـې د هېواد پـه صنعتي پرمختګ او د کاري فرصتونو ایجاد کې یې مهم رول لوبولی دی.

د افغانسـتان اسلامي امـارت لـه راتګ وړاندې د هرات په صنعتي ښارګوټي کې د کارخونو شـمېر ۱۲۰ و، خو اوس د اسلامي امارت د هڅو او پانګوالو ته د اسانتیاوو او امتیازاتو په پایله کې د کارخونو شـمېر له دې څخه پورته شوی دی.

اسلامي امـارت په ټولو کورنیـو او بهرنیو پانګوالـو او سـوداګرو غـږ کـړی چې په افغانسـتان کې له رامنځته شوي فرصت څخه په اسـتفادې پـه افغانسـتان کې پانګونـه وکړي. اسلامي امـارت پوهېږي چـې د پانګونـې له لارې په هېـواد کې د بېکارۍ کچه تر ډېره بریده راښکته کېدای شي، ځکـه یې پانګوالو او سـوداګرو ته د پانګونـې په برخه کې اسـانتیاوې برابرې کړي او امتیازات یې ورته منلي دي.

